AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني

۲۰۲۰/۰۳/۲۵

# آزمــون

خه رنگینه شان موقعه ده
د تـاریخ حساس شیبه ده
سرنوشت پـــه بله کیږي
د افغان د ژوند کیسه ده
زما، ستا چي د لسیزو
د حالاتـو نـــه ګیله ده
اوس راپاخه لاس په کار شه
چي د مرګ او ژوند صفحه ده
بنه یي وینو چي ډوبیږو
لا هم وینه مـو سره ده
د افغان نسل ورکیـــږي
ترینـــه پاتي قافله ده
نن د وخت بدنام سالار بیا
د ولس په سره دعوه ده
سره یو شئ چي ورکیږو
د غلیم سره مـو شپه ده
شهامت مونږ ته پکار دی
خه ویرجنه سلسله ده؟
سرنوشت مو خپل په لاس کړئ
د پردو نـــه خـــه ګیله ده
که یو نه شو نو ورکیږو
پکار عـــزم اراده ده
اوس لا هم زمونږ د نیکونو
لـــوته شوی حماسه ده
پوه رهبر درول غـــواړو
دا مـــو عـــزم اراده ده
افغاني په دې موقعه کي
د یووالـــي لار کـــره ده
------------------------



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ